# وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

# د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

## د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

# خبرپاڼه خبر نامه

**26عقرب_سال 1403**





# اخبار مهم

افغانستان - منطقه - جهان

# فهرست مطالب

**عنوان** | **صفحه**


**متقی در دیدار با معین وزارت عدلیه ایران خواستار رفتار نیک با مهاجران افغان شد -------------------------------1**

**اخراج بیش از صد افغان از پاکستان پس از انفجار در بلوچستان--------------------------------------------------2**

**هغه کډوال چې لارۍ موټرو کې برېتانیا ته د اوښتو هڅه کوي: «د سمندر له څپو څخه دارېږم«----------------------3**

**بریتانیا ته د کډوالو سفر؛ د دوو نورو کډوالو مړي په اوبو کې موندل شوي -----------------------------------------9**

**ایتالیا: میسون مجیدی، فعال زن کرد ایرانی به ظن قاچاق انسان در پایان نومبر محاکمه می‌شود --------------------12**

**یونان: قاچاقچیان صدها مهاجر را به جزیره کریت انتقال می دهند-----------------------------------------------14**

# متن کامل اخبار

## متقی در دیدار با معین وزارت عدلیه ایران خواستار رفتار نیک با مهاجران افغان شد

آریانانیوز



**امیر خان متقی، سرپرست وزارت امور خارجه در دیدار با عسکر جلالیان، معین وزارت عدلیه ایران در کابل از حکومت آن کشور خواست تا با مهاجران افغان رفتار نیک کند و حوصله مند باشد.**

**بر بنیاد خبرنامه وزارت امور خارجه، در این دیدار که روز پنجشنبه صورت گرفت، دو طرف در مورد روابط دوجانبه، مهاجران، زندانیان، همکاری‌های اقتصادی و تجارتی و همکاری‌های سیاسی منطقه‌ای گفتگو کردند.**

**سرپرست وزارت امور خارجه ضمن قدردانی از میزبانی مهاجران افغان به مدت چهار دهه در ایران، خواستار تعامل نیک و حوصله مندی تهران در قبال مهاجران شد.**

**وی همچنین تصریح کرد که امارت اسلامی متعهد به همکاری با ایران در رابطه با استرداد زندانیان افغان است و در این راستا از معین وزارت عدلیه ایران خواست تا در زمینه انتقال زندانیان به کشور همکاری همه جانبه کند.**

**بر بنیاد خبرنامه وزارت امور خارجه، . معین وزارت عدلیه ایران گفت که تهران تحولات اخیر در افغانستان را دنبال می کند و از ثبات خرسند است.**

**وی افزود که جمهوری اسلامی ایران به همکاری خود ادامه خواهد داد و بر اساس توافقات انجام شده، در آینده نزدیک زندانیان افغان را از ایران منتقل خواهد کرد.**

## اخراج بیش از صد افغان از پاکستان پس از انفجار در بلوچستان

طلوع نیوز

**مسوولان محلی قندهار می‌گویند که در دو روز گذشته، پاکستانی‌ها بیش از صد افغان را پس از بازداشت از آن کشور اخراج و به آنان سپرده‌اند.**



**پس از وقوع انفجاری در اوایل هفته جاری در بلوچستان، نیروهای پاکستانی تعداد زیادی از افغان‌ها را بازداشت کرده‌اند.**

**مسوولان محلی قندهار می‌گویند که در دو روز گذشته، پاکستانی‌ها بیش از صد افغان را پس از بازداشت از آن کشور اخراج و به آنان سپرده‌اند.**

**حبیب‌الله مسوول کمپ موقت مهاجران در ولسوالی تخته‌پل قندهار گفت: «پس از انفجار در بلوچستان یا هر حادثه امنیتی دیگر، افغان‌ها بازداشت می‌شوند .حتی افغان‌هایی که مدارک قانونی دارند نیز بازداشت شده و با خشونت مواجه می‌شوند. در یک ماه گذشته بیش از ۳۵۰ زندانی افغان به ما سپرده شده‌اند .همه آن‌ها شکنجه شده‌اند، اشیای قیمتی‌شان گرفته شده و زندانی شده‌اند«.**

**در همین حال، این افغان‌ها می‌گویند که نیروهای پاکستانی در جریان تحقیقات، آن‌ها و کودکانشان را شکنجه کرده‌اند.**

**افغان‌های آزادشده از زندان‌های پاکستان ادعا می‌کنند که نیروهای پاکستانی هنگام وقوع رویدادهای امنیتی، افغان‌ها را بدون هیچ اتهامی بازداشت و زندانی می‌کنند.**

**نصرالله، ۲۷ ساله و باشنده ولایت تخار، می‌گوید که هنگام بازداشت و زندانی شدن از سوی نیروهای پاکستانی، با او بدرفتاری شده است.**

**نصرالله اخراج‌شده از پاکستان گفت: «در پاکستان پس از بازداشت ما را به یک مرکز نظامی بردند و در آنجا انواع شکنجه‌ها را بر ما تحمیل کردند. از ما اشیای قیمتی گرفتند. شرایط در پاکستان برای افغان‌ها بسیار دشوار بود«.**

**اسدالله اخراج‌شده از پاکستان گفت: «خواست ما این است که پاکستان با افغان‌ها رفتار انسانی داشته باشد. هنگام بازداشت آن‌ها را شکنجه نکنند و مانند حیوانات با آن‌ها رفتار نکنند. پس از بازداشت ما را که ۱۱۵ نفر بودیم، در یک موتر انداختند و به افغانستان فرستادند. آیا این کار انسانی است؟«**

**شماری دیگر از افغان‌های آزادشده از زندان‌های پاکستان ادعا می‌کنند که نظامیان پاکستانی کودکانشان را نیز با آن‌ها بازداشت کرده‌اند و هنگام بازرسی، علاوه بر شکنجه، به سوی آن‌ها شلیک کرده‌اند.**

**عبدالله اخراج‌شده از پاکستان گفت: «پس از بازداشت ما را به پاسگاه بردند. در آنجا، ساعت سه بامداد ما را از خواب بیدار کردند و پس از ضرب و شتم به طرف ما تیراندازی کردند. ما را در جریان تحقیقات با مشکلات مختلف مواجه کردند«.**

**به گفته مسوولان، در ماه‌های اخیر علاوه بر پاکستان، اخراج اجباری مهاجران افغان از ایران نیز افزایش یافته است که امارت اسلامی در بخش‌های مختلف به آن‌ها کمک کرده است.**

## هغه کډوال چې لارۍ موټرو کې برېتانیا ته د اوښتو هڅه کوي: «د سمندر له څپو څخه دارېږم«

مهاجرنیوز




**د فرانسې په شمالي کالې او ګراند سنت ښارونو کې یو شمېر کډوال برېتانیا ته د رسېدو لپاره سمندري سفر ته زړه نه ښه کوي. دغه کډوال چې غواړي په لارۍ موټرو کې برېتانیا ته واوړي وایي د ناقانونه سفر په ګواښونو ښه پوهېږي، خو بله لار نه ده ور پاتې .**

***کډوال نیوز د یوې میاشتې لپاره د فرانسې کالې ښار ته راغلی دی. برېتانیا ته د اوښتو هڅه، د کډوالو پنډغالي، د امنیتي تدابیرو دېرېدل: موږ تاسو ته د فرانسې له شمالي سواحلو څخه د روان وضعیت په اړه راپورونه چمتو کوو.***

**جمال د کالې د ښاروالۍ ودانۍ ته څېرمه پر څوکۍ ناست دی او د سمندر اوبو ته ګوري. له پارک څخه لږ آخوا د یوه خیریه سازمان رضاکاران د سوریایي کډوالو یوې ډلې ته خواړه ورکوي. جمال وایي: «له دې ځای نه بېخي په تنګ راغلی یم. برېتانیا ته د تلو هڅه مې وکړه، خو بریالی نه شوم«.**

**جمال وایي: «په فرانسه کې نه پاتې کېږم ځکه ما په یونان کې ګوتې لګولې دي. خو له روحي پلوه سمندري سفر ته هېڅ ډول تیارۍ نه لرم: د سمندر له څپو څخه ډارېږم.» د جمال بل انتخاب دا دی چې په لارۍ موټر کې ځان برېتانیا ته ورسوي، خو په لاریو کې سفر کول هم اسانه نه دي: «په تېرو دوو اونیو کې مې دوه ځله برېتانیا ته د تګ هڅه وکړه. لومړی ځل د موټرو پارکېنګ کې او دویم ترافیکي څراغ ته نږدې لاریو ته پورته شوم. خو امنیتي ځواکونو ونیولم. نن شپه به یو ځل بیا خپل بخت وازمایم«.**




یو شمېر کډوال لا هم په لاریو کې برېتانیا ته د تلو هڅه کوي، ۱۴ نومبر ۲۰۲۴. انځور: دانا البز، کډوال نیوز

»تر ټولو رایجه طریقه» او یوه بله لاره

وروسته له هغه چې په ۲۰۱۸ کې د کالې په بندر او د مانش په تونل کې امنیتي تدابیر زیات شول، د لارۍ په موټرو کې برېتانیا ته د کډوالو اوښتو کې کموالی راغی .که څه هم اوس انګلیس کانال برېتانوي سواحلو ته د رسېدو پر اصلي لار بدل شوی، خو یو شمېر کډوال لا هم په لاریو کې دغه هېواد ته د تلو هڅه کوي.

په کالې کې د اوبرژ دو میګران په نوم د کډوالو د ملاتړ سازمان غړې فلور ژودې وایي چې تر ډېره هغه کسان په لاریو کې برېتانیا ته د اوښتو هڅه کوي چې پیسې نه لري. هغه چې د فرانسې په شمالي سیمه کې روان وضعیت د «انساني کړکېچ «مصداق ګڼي تېنګار کوي چې په کېښتیو سربېره یو شمېر مهاجر لاریو کې د سپرېدو پر مهال هم ټپیان کېږي یا خپل ژوند له لاسه ورکوي. د ۲۰۲۴ په جنورۍ کې د یوې لارۍ له شا څخه یو جسد موندل شوی و. یو کال مخکې یو بل کډوال له لارۍ موټر څخه د غورځېدو له امله خپل ژوند بایللی و. همدارنګه، د ۲۰۲۳ په می میاشت کې یو سوډانی تر ټانکري موټر لاندې شوی و.

د برېتانیا د کورنیو چارو وزارت په وینا، له ۲۰۲۰ راهیسې د کډوالو لویه برخه په «کوچنیو کېښتیو «کې د دغه هېواد سواحلو ته د رسېدو هڅه کوي، خو یو شمېر نور کسان بیا په لاریو یا د هوا له لارې د برېتانیا خاورې ته داخلېږي .

د یاد وزارت په وېبسایټ کې راغلي دي: «په کوچنیو کېښتیو کې [سفر] برېتانیا ته د غیرقانوني داخلېدو تر ټولو رایجه طریقه ده.» د دغه وزارت له خوا خپرې شوې شمېرې ښیي چې د ۲۰۲۴ په لومړیو شپږو میاشتو کې ټولټال ۱۸۱ کډوال د لارۍ موټرو له

لارې خو ۱۳۵۰۰ تنه په کښتیو کې برېتانیا ته اوښتي دي. په ورته مهال، د روان کال له پیل څخه تر سپتمبر پورې برېتانیا ته تلونکو لاریو کې تر ۲۶۴۰ زیات کډوال نیول شوي دي.




»پیسې راسره نشته«

د کالې په بو مارې سیمه کې شاوخوا ۳۰ سوډاني کډوال په یوه کوچني پنډغالي کې ژوند کوي. محمد یو له یادو کډوالو څخه دی چې تر ونو لاندې یې خیمه وهلې ده. دغه سوډاني مهاجر یو کال وړاندې په فرانسه کې د پناه غوښتنه کړې، خو دلته یې دوسیه رد شوې ده. هغه چې نور په فرانسه کې د اوسېدو اجازه نه لري دوه میاشتې مخکې د کالې بندري ښار ته رسېدلی او غواړي چې برېتانیا ته ولاړ شي: خو په لارۍ کې .

دغه ځوان مهاجر وايي: «د سمندر له لارې ځکه برېتانیا ته نه شم تللی چې پیسې راسره نشته. قاچاق وړونکي زیاتې پیسې اخلي.» هغه درې ځله برېتانیا د تګ هڅه کړې، خو هر ځل یې هڅه ناکامه شوې ده.



**یو سوډانی کډوال د کالي په بو مارې کمپ کې، ۱۳ نومبر ۲۰۲۴. انځور: کډوال نیوز**

**د بو مارې کمپ په ۳۰ کیلومترۍ کې افغان کډوال عزیز له ورته ستونزې سره لاس او ګرېوان دی. دغه ۲۰ کلن مهاجر نن پنجشنبه د ګراند سنت په باراني او سړه هوا کې لون پلاژ کمپ کې د خوړو وېشلو ځای ته راغلی دی. هغه چې په یونان کې یې ګوتې ثبت شوې وايي غوښتل یې جرمني کې پاتې شي، خو چارواکو د «ترک خاک «سند ورکړ. تمه وه چې عزیز د نومبر په ۱۴مه یونان ته واستول شي، خو هغه د نومبر په ۱۰مه له جرمني څخه ووت او د سختیو په ګاللو سره یې ځان کالې ښار ته ورساوه.**

**عزیز وايي: «آن د ټکټ پیسې راسره نه وې. اوس دلته پروت یم او نه پوهېږم چې برخلیک به مې څنګه شي.» دغه کډوال چې خیمه نه لري او تر شنه اسمان لاندې شپې ورځې تېروي وايي لون پلاژ کمپ ته له رسېدو سره سم له دوو نورو افغانانو سره اشنا شوی دی. دغو افغانانو ورته ویلي چې کولی شي لارۍ موټر کې ځان برېتانیا ته ورسوي.**



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*



عزیز وایي چې ټوله شپه یې تر دغه پوله لاندې تېره کړې ده. انځور: کډوال نیوز

»کوم ځای، څنګه، او کوم موټر؟«

خو څنګه؟ هغه وایي: «په لارۍ کې سفر له ګواښونو ډک دی، خو بله چاره نشته. نن له خپلو نویو ملګرو [هغه دوه افغانان چې محمد په ګراند سنت کې ورسره اشنا شوی] سره شاوخوا سیمو ته ځم. دوی به را ته وښیي چې په کوم ځای کې، څنګه او کومو لاریو ته باید پورته شم«.

»د ترانسمارک د لوجستیکو د ترانسپورټ زون» د کالې او ګراند سنت ترمنځ پرته سیمه ده. د دغې سیمې په هره خوا ازغن تارونه لیدل کېږي. ټاکل شوې ده چې په راتلونکو دوو کلونو کې له ترانسمارک څخه تر تورکېږې زون پورې ۱۱ کیلومتره نور خنډونه هم جوړ شي. دا پروژه په بشپړه توګه د برېتانیا د حکومت له خوا تمویلېږي.

نن غرمه د ترانسمارک یوه پارکېنګ مخې ته څلور سوډانیان انتظار باسي. دوی ټول غواړي چې په لارۍ موټرو کې ځانونه برېتانیا ته ورسوي. له ازغن تار څخه لږ آخوا د پارکېنګ ساتونکی ولاړ دی. هغه د خپل نوم د نه ښودلو په شرط وایي چې «که څه هم په لاریو کې برېتانیا ته د تلونکو کډوالو شمېر د پخوا په پرتله کم شوی دی، خو دا په دې مانا ده چې دغه پدیده پای ته رسېدلې وي.» یاد ساتونکی زیاتوي چې د امنیتي تدابیر او خنډونو سره سره اوس هم یو شمېر کډوال په دې بریالی کېږي چې موټرونو ته پورته شي.



**کډوال ترانسمارک کې د موټرو پارکېنګ مخې ته، ۱۴ نومبر ۲۰۲۴. انځور: دانا البز، کډوال نیوز**

**محمد یو له دغو مهاجرو ځخه دی. هغه چې برېتانیا ته د تګ لپاره ټینګه اراده لري، وایي: «لاریو کې سپرېدل یوه خبره ده او مناسبو لاریو کې سپرېدل بله خبره.» یا په بل عبارت، ځینې موټرونه کیمیاوي یا خطرناک توکي انتقالوي او یا یخچالي دي، ځینې لارۍ هم برېتانیا ته نه بلکې نورو هېوادونو ته ځي. محمد چې درې ځله یې بلجیم ته تلونکو موټرو ته پورته شوی وایي چې «د ځان د ساتلو لپاره» اوس له دقت ځخه کار اخلي. عزیز او جمال هم دغه خبره تاییدوي .**

**جمال وایي: «باوري یم چې یوه ورځ به برېتانیا ته ورسېږم، خو احتیاط فرض دی«.**

## بریتانیا ته د کډوالو سفر؛ د دوو نورو کډوالو مړي په اوبو کې موندل شوي

مهاجرنیوز




د فرانسې او بریتانیا ترمنځ په انګلیس کانال کې د کډوالو د مرګوني پیښو له ډیریدو سره، د چهارشنبې په ورځ د پادو کالې په سواحلو کې د دوو نورو کډوالو مړي هم و موندل شول. یوازې په نومبر میاشت کې ۱۱ تنه بریتانیا ته د تلو په هیله خپل ژوند له لاسه ورکړی.

فرانسوي چارواکو د دغه هیواد په شمال پادو کالې سواحلو کې د سه شنبې په ورځ د نومبر په ۱۲مه، د دوو کډوالو مړي موندلي. د دغو کډوالو مړي د سانګت او ویسان په سواحلو کې موندل شوي دي.

د بولان سور میر سیمې څارنوال ګیرک لوبرا د فرانسې خبري آژانس ته په دې اړه ویلي چې د دغو کډوالو مړي « ډیر زیان لیدلی» او د دې ښودنه کوي چې دغه مړي د څو ورځو لپاره تر اوبو لاندې وې.

د بولان سور میر سیمې څارنوال وايي چې د دغو مړو په اړه څېړنې پیل شوې. څارنوالي تر دې مهاله د کښتیو د ډوبیدو په پیښو کې د دغو دوو کسانو مړینه نه ده تایید کړې .

د فرانسې خبري آژانس د شمیرو له مخې چې له رسمي سرچینو څخه راټول شوي، په انګلیس کانال کې د موندل شوو مړو شمیر د روان کال له اکتوبر څخه د نومبر تر لومړیو پورې، ۱۱ تنو ته رسیږي. د لسګونه نورو کسانو مړي لادرکه دي.



Website: *https://morr.gov.af*

Twitter: *https://twitter.com/MoRRAfg*

Facebook: *https://www.facebook.com/morr.gov.af2*



**د فرانسې په شمال کې د کډوالو هغه کښتۍ چې بریتانیا ته د سفر هوډ لري.۴ سپتمبر ۲۰۲۴. رویټرز**

**په دې وروستیو میاشتو کې بریتانیا ته په کښتیو کې د تلونکو کډوالو مرګ ژوبله ډېره شوې.د روان کال له پیل راهیسې ۶۰ تنه پر دغه سمندري لار مړه شوي دي .یو شمېر نور بیا په سمندر کې ډوب شوي، خو تر اوسه یې مړي نه دي موندل شوي.**

**پر له پسې مرګ ژوبله**

**په تېرو اوو ورځو کې د فرانسې په شمالي سیمې او د انګلیس کانال په اوبو کې د ګڼ شمیر کډوالو مړي موندل شوي. فرانسوي چارواکو تیره اونۍ د نومبر په ۶مه، د کالې په یوه ساحل کې یو مړی او د انګلیس کانال په اوبو کې دوه نور مړي وموندل. له یادو پیښنو یوه ورځ وړاندې هم انګلیس کانال کې د دوو کډوالو مړي موندل شوي وو.**

**په انګلیس کانال کې د کډوالو د مرګ ژوبلې پیښنو له ډېریدو سربیره لاهم ګڼ شمیر کډوال د فرانسې په شمال کې په دې تمه شپې سبا کوي تر څو په وړو کښتیو کې د بریتانیا سواحلو ته واوړي.**



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*



**کډوال د کالي روغتون ته څېرمه په یوه پنډغالي کې ژوند کوي، د ۲۰۲۴ د نومبر ۱۲. انځور: کډوال نیوز**

**فرانسوي چارواکي وايي چې بریتانیا ته د سفر لپاره کډوال د قاچاقبرانو له وړو او خرابو کښتیو څخه ګټه پورته کوي او له اندازې څو برابره ډیر کډوال په دغو کښتیو کې ځای پر ځای کیږي.**

**د برېتانیا د کورنیو چارو وزارت په وینا، د ۲۰۲۴ د جنورۍ له لومړۍ نېټې راهیسې تر ۳۰ زرو څخه زیات کډوال د انګلیس کانال له لارې برېتانوي سواحلو ته په رسېدو بریالي شوي دي. د دغه وزارت له خوا خپرې شوې رسمي شمېرې ښیي چې یوازې د نومبر له ۱ څخه تر ۵ پورې ۸۴۷ کډوال پر دغه سمندري لار ځانونه برېتانیا ته رسولي دي.**

## ایتالیا: میسون مجیدی، فعال زن کرد ایرانی به ظن قاچاق انسان در پایان نومبر محاکمه می‌شود

مهاجرنیوز




**میسون مجیدی، فعال زن کرد، که سال گذشته، پس از یک سفر دریایی خطرناک از ترکیه، در فردای ورودش به ایتالیا دستگیر شد، در ۲۷ نومبر در دادگاهی در ایتالیا به ظن دست داشتن در قاچاق مهاجران محاکمه خواهد شد. این زن جوان که ده ماه را در زندان سپری کرده، همچنان بر بی گناهی خود اصرار دارد.**

**»من کار بدی نکرده‌ام!» نزدیک به یک سال است که میسون مجیدی، فعال کرد ایرانی، که از سرکوب رژیم ایران فرار کرده و در ایتالیا در انتظار محاکمه خود است، تلاش دارد بیگناهی خود را ثابت کند. مقامات ایتالیایی او را به «همدستی در کمک به مهاجرت غیرقانونی «مظنون می‌دانند، جرمی که مجازات آن در این کشور شش تا شانزده سال زندان است.**

**میسون مجیدی، ۲۸ ساله، در ۳۱ دسمبر ۲۰۲۳ با ۷۷ مسافر دیگر که از ترکیه حرکت کرده بودند از یک قایق در کالابریا پیاده شدند. او روز بعد بر اساس شهادت دو نفر، متهم به سازماندهی این سفر و دستگیر شد. کمی بعدتر هردو شهادت تکذیب شد و ناخدای کشتی نیز برائت گرفت.**

**با این حال میسون مجیدی همچنان نزدیک به ده ماه را در زندان ماند. او در اعتراض به این وضعیت به ویژه درخواست مترجم، اعتصاب غذا کرد. پریسا نظری، یک فعال فمینیست ایرانی مقیم ایتالیا، که از میسون مجیدی حمایت می‌کند، ناراحتی او را در زندان چنین به یاد می‌آورد: «وقتی او را در آغوش می‌گرفتم، قبرغه‌هایش را حس می‌کردم. او مدام از من می پرسید: « من اینجا چه کار می کنم؟««**

**خبرگزاری فرانسه می‌گوید که میسون در ۲۲ اکتوبر آزاد شد و حال در انتظار محاکمه‌ای به سر می‌برد که قرار است «به طور قطعی او را تبرئه کند». او امیدوار است که بعدتر به برادرش در آلمان بپیوندد.**

» مرا تعقیب می کردند«

میسون مجیدی متولد ۱۹۹۶ در استان کردستان ایران است و در رشته تئاتر و جامعه شناسی تحصیل کرده است. او در چندین مقاله که با نام مستعار منتشر شد، فضای زن ستیزی در ایران را محکوم کرد و سپس فیلمی کوتاه با کولبرها ساخت .کولبرها، کردهایی هستند که در غیاب چشم انداز اقتصادی دیگر، با حمل کالا در کوه های مرزی میان ایران و عراق جان خود را به خطر می‌اندازند.

سازمان غیردولتی هانا که نقض حقوق بشر در منطقه کردستان ایران، زادگاه میسون را مستند می‌کند، تایید کرده است که میسون مجیدی یکی از اعضای فعال آن بوده است. او می‌گوید: «من همیشه، حتی زمانی که در دانشگاه درس می‌خواندم، تحت نظر بودم. در سال ۲۰۱۹، آنها مرا دستگیر و سپس آزاد کردند، اما می‌دانستم که مرا تعقیب می‌کنند و برای دسترسی به روابطم من را آزاد کرده‌اند«.

میسون سپس با برادرش به اربیل در کردستان خودمختار عراق تبعید اختیار کرد و پس از مرگ مهسا امینی، دانشجوی کرد که توسط پولیس ارشاد ایران در سپتمبر ۲۰۲۲ دستگیر و کشته شد، به روزنامه نگاری رو آورد و در سازماندهی تظاهرات جنبش »زن، زندگی، آزادی» شرکت کرد. او با تهدیدهای جدید، مجبور به فرار به ترکیه و از آنجا به ایتالیا شد، جایی که او را بازداشت و زندانی کردند

میسون به خبرگزاری فرانسه گفت: «هیچ‌کدام از ما نمی‌خواهیم کشورمان را ترک کنیم و با تمام این خطرات روبرو شویم تا به اینجا برسیم. من نه تنها برای زنده ماندن، بلکه برای ادامه کارم مجبور شدم ایران را ترک کنم .«.

قربانی سیاست ایتالیا

سازمان عفو بین‌المللی و چندین شخصیت سیاسی، از میسون مجیدی که شهروندی افتخاری شهرداری ریاس در کالابریا را دریافت کرده، حمایت کرده‌اند. دومنیکو لوکانو، شهردار ریاس، که در عین حال نماینده پارلمان اروپاست، سیاست استقبال از مهاجران از جمله تعدادی از کردها را دنبال می‌کند.

به گفته سازمان‌های غیردولتی و انجمن‌ها، میسون قربانی سیاست محافظه‌کارانه جورجیا ملونی نخست وزیر ایتالیا است که از زمان رسیدن به قدرت در ۲۰۲۲ تعهد کرده که از ورود مهاجران مدیترانه به این کشور جلوگیری کند. ریکاردو نوری، سخنگوی سازمان عفو بین‌المللی در ایتالیا به خبرگزاری فرانسه گفت: «اغلب این تصور وجود دارد که افرادی را در قایق‌های حامل مهاجران دستگیر می‌کنند تا نشان بدهند که مبارزه با به اصطلاح مهاجرت غیرقانونی، موثر است.«

سازمان عفو بین المللی می‌گوید که چندین محاکمه مشابه در مورد مهاجران مظنون به قاچاق مهاجران در ایتالیا در جریان است، از جمله دادگاه مرجان جمالی، یک زن ایرانی که در پایان سال ۲۰۲۳ به همراه پسرش به ایتالیا آمد تا از«خشونت شریک زندگیش و رژیم ایران فرار کند«.

این در حالیست که اتهامات مشابهی در یونان نیز مطرح شده است. در آغاز سال ۲۰۲۳، مهاجر نیوز با مهاجران سوری که در زندان جزیره خیوس محبوس بودند، ملاقات کرد.  این مهاجران از سوی دادگاه به قاچاق مهاجران متهم و زندانی شده بودند. برخی از آن‌ها به ۲۰ سال زندان محکوم شده بودند و می گفتند این احکام را درک نمی‌کنند.

## یونان: قاچاقچیان صدها مهاجر را به جزیره کریت انتقال می دهند

مهاجرنیوز



**تقریباً هر روز مهاجران جدیدی از شمال افریقا به جزیره کریت یونان می‌رسند. آن ها برای این سفر ۳ هزار تا ۶ هزار یورو پرداخت می کنند. سیاستمداران یونانی این وضعیت را نگران کننده خواندند .**

**در عرض ۴۸ ساعت گذشته بیش از ۲۰۰ مهاجر در نزدیکی جزیره کریت یونان دستگیر و به جای امن منتقل شده‌اند. طبق گزارش گارد ساحلی یونان، این افراد از بندر طبرق در لیبیا سفرشان را آغاز کرده بودند .**

**یک افسر گارد ساحلی در مصاحبه با رادیو یونان (ای آر تی) گفت: «قاچاقچیان پول خوبی به دست می‌آورند.» به گفته مهاجران، برای عبور به سمت کریت، قاچاقچیان از هر نفر بین ۳۰۰۰ یورو تا ۶۰۰۰ یورو دریافت می‌کنند.**

**طبق گفته‌های معاون وزیر مهاجرت یونان، سوفیا ولتیپسی، مشکل مسیر جنوبی (طبرق – کریت) پیوسته جدی تر می شود. او در مصاحبه با رادیو یونان گفت: «این وضعیت نگران‌کننده است«.**

**مهاجران قصد دارند به آلمان سفر کنند**

**طبق گفته‌های وزیر مهاجرت یونان، نیکوس پاناگیوتوپولوس، اکثریت مهاجرانی که به این کشور می رسند، قصد دارند در اولین فرصت یا پس از دریافت پناهندگی در یونان، به آلمان و کشورهای دیگر غربی سفر کنند. وزیر مهاجرت این مطلب را در روزهای اخیر به رسانه‌های یونانی اعلام کرده بود.**

**کمیساریای عالی پناهندگان سازمان ملل متحد(UNHCR) ، بیش از ۵۰ هزار ورود جدید مهاجران به یونان را ثبت کرده است.**

طبق گزارش این کمیساریا، از ابتدای سال جاری تا تاریخ ۱۰ نوامبر، بیش از ۵۲ هزار مهاجر به یونان وارد شده‌اند که از این تعداد ۴۵ هزار و ۷۶۹ نفر از طریق بحر آمده اند. براساس ارقام اداره آمار اتحادیه اروپا، یونان به نسبت جمعیتش پس از قبرس بیشترین تعداد درخواست‌های پناهندگی را دریافت کرده است.

خبرنامه